مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۵/۱۳

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
## (پنځو سمه برخه)

### علي احمد خرم

د خرم دل زوی په ۱۹۳۱ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۷ز کال کې ئـې خپل لیسانس د کابل له پوهنتون څخه په اقتصاد کې او خپله ماستري ئـې په ۱۹۶۵ز کال کې په اقتصاد کې د پټسربرو له پوهنتون څخه ترلاسه کړه. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۶۸ز کال پورې ئـې په امیریکن پوهنتون کې فوق ماستري ئـې واخیستله. په ۱۹۵۶ز کال کې د پلان په وزارت کې شامل سو. په ۱۹۵۸ز کال کې د پلان جوړوني او انسجام د ریاست رئـیس. د سوداګرۍ د ریاست رئـیس؛ له ۱۹۵۶ تر ۱۹۷۱ز کال پورې د پلان جوړوني رئـیس. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۴ز کال پورې د پلان د وزارت مرستیال وزیر او په ۱۹۷۴ز کال کې د پلان وزیر. د ۱۹۷۷ز کال د نوامبر د میاشتې په ۱۶ نـېټې د محمد مرجان په وسیلې ووژل سو؛ مرجان په همدې قتل تورن دئ او لا تر اوسه یعنی ۱۹۸۶ز کال پورې په زندان کې دئ. وادهٔ ئـې کړی او درې زامن او دوې لوڼې لري.

### نور محمد خرمي

په ۱۹۸۵ز کال کې د ایتوپیا په ادیسه ابابا کې د افغان سفارت سفیر.

### محـمد ابراهیم خواخوږی

په ۱۹۲۰ز کال کې په کندهار کې زېږېدلی دئ. د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د ادبیاتو د ریاست رئـیس. د کابل ننداري مرستیال رئـیس. د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د کتاب خپرولو د ریاست رئـیس. د میوند وال ملاتړی. مورنۍ ژبه ئـې پښـتو ده.

### محـمد صفر خواریکښ

په ۱۹۸۵ز کال کې د انیس ﴿د جبهـهٔ ملي پدر وطن مرکزي ارګان﴾سر محرر﴿. دا ورځپانه اوس په دري او پـښـتو ګنو کې چاپ کـېږي. مورنۍ ژبه ئـې پـښـتو ده.

**خوازک** : وګورئ : ځلمی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

## عبدالله کشتمند

تحصیلات ئـې په فرانسه کې کړي دي. له یوې فرانسوۍ مېـرمنې سره ئـې وادهٔ کړی دئ. په ۱۹۸۴ز کال کې په پاریس کې د افغانستان شارژدافیر. د سلطان علي کشتمند ورور.

## اسدالله کشتمند

په فرانسه کې ئـې تحصیل کړی دئ. په ۱۹۸۰ز کال کې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند د مرکزي کمېټې د نړۍ والو اړیکو د ریاست مرستیال رئـیس. د سلطان علي کشتمند ورور.

## کریمه کشتمند

د افغانستان د ښځو د ډیموکراټیک سازمان WDOA منشي. د کابل د ښار لپاره د اسنادو او رابطې د گوندي کمېټې مسؤوله. د طاهر بدخشي دوهمه ښځه او کونډه.

## سلطان علي کشتمند

د هزاره نجف علي زوی په ۱۹۳۵ز کال کې زېږېدلی دئ. د کابل د پوهنتون د اقتصاد د څانگې فارغ. په ۱۹۶۵ز کال کې ئـې د ولسي جرگې لپاره ځان کاندید کړ خو وئـې بایلله. په ۱۹۶۵ز کال کې په مخفي توگه د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند د مرکزي کمیټې غړی سو. په ۱۹۶۷ز کال کې د کانونو او صنایعو د وزارت د اقتصادي څانگې مدیر. د غوایي له پاڅون وروسته د پلان وزیر. د ۱۹۷۸ز کال د آگست په میاشت کې زنداني سو، او د خلقي حکومت پر وړاندې د توطئـې جوړولو تور ورباندې ولگېد. په اعدام محکوم سو خو د ۱۹۷۹ز کال د اکتوبر د میاشتې په ۷ نـېټې د اعدام حکم ئـې ۱۵ کالو زندان ته راټیټ سو. د حفیظ الله امین له سقوط وروسته د ۱۹۸۰ز کال د جنورۍ د میاشتې په ۱۱ نــېټې د مرستیال صدراعظم، د انقلابي شوری د مرستیال رئـیس او د پلان د وزیر په توگه وگومارل سو. د سیاسي بیرو او د انقلابي شوری د رئـیسه هیئـت غړی. د ۱۹۸۱ز کال په جون کې صدراعظم.

## ډاکټر عبدالقیوم کوچی

د جنرال عبدالغني احمدزي زوی د لوگر په سرخاب کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۹ز کال کې د کابل له پوهنتون څخه د نړۍ والو اړیکو په برخه کې د لیسانس په درجې فارغ سو. روسیې ته لاړ او په ۱۹۶۵ز کال کې ئـې خپله ماستري د روسیې د نولسمې پېـړۍ په ادبیاتو کې د مسکو له پوهنتون څخه واخیستله؛ او خپله دکتورا ئـې په سیاسي علومو کې په ۱۹۷۰ز کال کې د مسکو د ساینس له اکاډیمۍ څخه واخیستله. له ۱۹۶۰تر ۱۹۶۷ز کال پورې د باندنیو چارو په وزارت کې د اقتصاد او پروتوکول د ریاستونو غړی. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۷۰ز کال پورې په مسکو کې د افغان سفارت سیاسي او مطبوعاتي اتشه. له ۱۹۷٫ -؟ وروړستـنی عدد نه دی لیکل سوی – ژ٫ تر ۱۹۷۴ز کال پورې د باندنیو چارو په وزارت کې د شوروي اړیکو د سیاسي څانگې غړی. له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۸ز کال پورې په صوفیې کې د افغان سفارت د مأموریت مرستیال او وروسته شارژدافیر. د ۱۹۷۸ز کال د اگست له میاشتې د ۱۹۸۰ز کال د جنورۍ تر میاشتې پورې د پلچرخي په زندان کې زنداني. له ۱۹۸۰ تر ۱۹۸۱ز کال پورې د باندنیو چارو په وزارت کې د اقتصادي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

اړیکو او باندنۍ سوداګرۍ رئیس. د ۱۹۸۱ ز کال د اپریل له میاشتې د اکتوبر تر میاشتې پورې په بوداپست کې د افغان سفارت سلاکار. په ۱۹۸۱ز کال کې ئې سیاسي پناه واخستله. د افغان نشنلیستانو لپاره «خپلواک دیپلومات».

## حافظ نور محمد کهګدای

د نور علي زوی په ۱۹۰۱ز کال کې زېږېدلی دئ. د حبیبیې په ښوونځي کې ئې زده کړې کړي دي. په ۱۹۲۲ز کال کې د وزیرانو د شورې کاتب. په ۱۹۲۴ز کال کې د وزیرانو د شورې د آرشیف منشي. په ۱۹۲۶ز کال کې منشي. په ۱۹۳۰ز کال کې مدیر. په ۱۹۴۷ز کال کې مرستیال. په ۱۹۵۱ز کال کې د سلطنتي دارالانشاء لومړی مرستیال. په ۱۹۶۳ز کال کې د پخواني پادشاه محمد ظاهر شاه سرمنشي. کهګدای یو بایوګرافر او ببیلوګرافر وو چې د افغان شاعرانو او سیاستوالو مواد ئې راټول کړي ول چې یو شمېر ئې د ۱۹۶۵ – ۱۹۷۲ کلونو تر منځ په ژوندن مجلې کې چې چاپ سوي دي. په مزار شریف کې د اسلام د خلیفه حضرت علي د قبر په هکله ئې کتاب ولیکهٔ. د ۱۹۷۲ز کال په پسرلي کې وفات سو.

## بابه کوهي

په ۱۹۵۱ز کال کې په مزار شریف کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۹ز کال کې د مزارشریف له یوې لیسې څخه فارغ سوی دئ. د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځي کې ئې تحصیلات وکړل، ۱۹۷۰زکال. لومړنی لنډ داستان ئې په ۱۹۷۳ز کال کې د ژوندون په مجلې کې خپور سو. په ګڼ شمېر ورځپاڼو او نورو خپرونو کې ئې لیکنې خپرې سوې دي او همدا شان د ماشومانو لپاره د لنډو داستانونو لیکوال.

**کوهي سمنګاني** : وګورئ : یزګرد

## خلیل الله کوهستاني

د غوایي له پاځون وروسته د مخابراتو د وزارت مرستیال وزیر. د انقلابي شورى غړى. د کابل ښار د ګوندي کمېټې مرستیال منشي.

## احمد علي کهزاد

د کابل له چنداولو د محمد علي زوی، په ۱۹۰۷ز کال کې زېږېدلی دئ. د استقلال له ښوونځي څخه فارغ سوی دئ. د ډېرو کلونو لپاره ئې د «ښاغلي هکین» [1] تر مشرۍ لاندې د فرانسوي لرغون پېژندونکي له پلاوي سره کار وکړ. د دربار د وزارت شفاهي ژباړونکی. د دریو کالو لپاره په روم کې د افغان سفارت سکرتر. له دې وروسته هېواد ته راستون او په کوتوالي کې زندان ته واچول سو. د افغان اکاډیمی د تألیف او ترجمې مرستیال مشر. د پښتو ټولنې د تأریخ د څانګې مرستیال مدیر. مؤرخ، لیکوال د آریانا او وروسته د افغانستان محرر. د افغانستان له اسلام مخکې تأریخ د لیکلو په برخه کې ئې ونډه واخیسته او د افغان نشنلیست ایډیالوژۍ لپاره ئې بنسټ جوړ کړ. له ۱۹۵۶ تر ۱۹۶۱ز کال پورې د تأریخ د ټولنې رئیس. د تأریخ پوهاند. د کابل لرغونتون رئیس. په ۱۹۷۴ز کال ئې تقاعد وکړ. آثار ئې :

[1] - Mr. Hackin


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په ۱۹۶۸ز کال کې : افغانستان د تأريخ په رڼا کې؛ په ۱۹۶۳ز کال کې ‎ٍوگورئ په لمن ليک کې[2] مورنۍ ژبه ئـي درې ده. د ۱۹۸۳ز کال د نوامبر په ۲۵ نـېټې وفات سو.

## مـحمد نبي کهزاد

د مـحمد علي زوی په ۱۹۲۵ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د استقلال له ليسې څخه فارغ سوی دئ. له ۱۹۵۵ تر ۱۹۵۷ز کال پورې ئـې د امريکا د متحده ايالاتو په برکلي کې د کارولاينا په پوهنتون کې او له ۱۹۵۷ تر ۱۹۵۸ز کال پورې ئـې ژورناليزم لوستی دئ. د فرانسويانو، ايټالويانو او انګليسانو لپاره ژباړونکی. له ۱۹۳۰ تر ۱۹۴۰ز کال پورې د افغان مطبوعاتو رياست کې وو. له ۱۹۴۱ تر ۱۹۴۳ز کال پورې د استقلال په ليسې کې د فرانسوی او جغرافيې ښوونکی. له ۱۹۴۲ تر ۱۹۴۵ز کال پورې د تأريخ د ټولنې غړی وو. له ۱۹۴۶ تر ۱۹۶۰ز کال پورې د افغانستان / آريانا د خپرونې محرر وو. په ۱۹۵۹ز کال کې مصر ته د کلتوري مأموريت مشر وو. په بيروت کې د ۱۹۵۹ز کال د الوتکې د غورځـېدنې په پېښې کې يوازينی ژوندی پاتې سوی. د شاو خوا ۲۵ کلونو لپاره ئـې د بـېلابـېلو افغان ورځپاڼو او مجلو لپاره ليکنې وکړې. اوس د امريکا په متحده ايالاتو کې ژوند کوي او همدلته د افغانستان د آزادۍ د جنګياليو په خپرونو کې همکاري کوي. [3]

**نور بيا**

## مـحمد يوسف کهزاد

د احمد علي کهزاد ورور، د مـحمد علي زوی په ۱۹۳۲ز کال کې په کابل کې...

قدرمنو لوستونکو! د ښاعلي رحمت آريا د آرشيف: لينک

[2] -Chevalier de l'Ordre des Arts et des Letters, France, 1963
[3] - Chevalier de l'Ordre des Arts et des Letters, France


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ